PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت درېیم کال، ۲۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وږی ۲ مه د۱۴۳۲ هـ ق د رمضان ۲۴ مه د۲۰۱۱ م د آګست ۲۴ مه

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دی په نورو سړیو ملنډې ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دی ښځې پر نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
کوم سړی چې د روژې د میاشتې یوه روژه هم له څه شرعي رخصت او ناروغی پرته وخوري نو که ټول عمر هم روژه ونیسي نو د روژې د میاشتې د یوې ورځې روژې بدل هم نه شي پوره کولې. (ابوداود، ابن ماجه، ترمذی)

د افغاني خواوو له مخالفت سره سره یوناما د انتخاباتو د کمیسیون د پرېکړې هرکلی وکړ

تاند:
په افغانستان کې د ملګروملتو دفتر یا یوناما په یوه خبرپاڼه کې د ولسي جرګې د نهو غړیو د بدلون په اړه د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمیسون پرېکړه تایید کړه او له هغې څخه یې ملاتړ اعلان کړ.

دا په داسې حال کې ده چې نه د ولسي جرګې غړي، نه معترض کاندیدان او نه ستره محکمه دا پرېکړه محترمه بولي او نه هم د انتخاباتو خپلواک کمیسون هغه د عدالت له مخې ګڼي.

د انتخاباتو د کمیسون مشر فضل احمد معنوي ویلي چې دا پرېکړه یې د فشارونو په نتیجه کې کړې.قاضیانو او څارنوالانو بیا ویلي چې د انتخاباتو کمیسون باید د محکمو پرېکړې تطبیق کړي.

د انتخاباتو خپلواک کمیسون د روانې اونۍ د یکشنبې په ورځ د ولسي جرګې نهه غړي سلب اعتماد کړل او د هغو پر ځای یې د معترضو کاندیدانو له منځه نهه تنه نور ولسي جرګې ته معرفي کړل.

ویل کېږي چې د انتخاباتو کمیسون دا پرېکړه په کابل کې د ملګروملتو د دفتر یوناما له مقاماتو سره له اوږدو

پاتې ۴ مخ

نیویارک تایمز:

به نظر نمی رسد تصمیم کمیسیون انتخابات برای پایان نزاع کافی باشد

امریکا، رسانه ها:
کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان از چند ماه به این سو تحت فشار قرار داشت و روز یکشنبه تغیراتی را در نتیجه نهایی انتخابات ولسی جرگه اعلام کرد. فضل احمد معنوی کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان گفته است، نه عضو ولسی جرگه با نه تن از نامزدان معترض تعویض می شود که پیش از این ناکام اعلام شده بودند.

معنوی هنگام اعلام نام های این افراد گفت، این نتیجه نهایی است و هیچ نوع تغییر در آن نخواهد آمد. وی گفت، به فشارها تسلیم نشده در روشنی صلاحیت های قانونی این تصمیم را گرفته است.

بقیه در صفحه ۴

ولسمشر کرزی ولې د ټاکنو د کمیسیون پر پرېکړې غلې دی؟

کابل، رسنۍ:
د سیاسي چارو یو شمېر افغان کارپوهان د افغان ولسمشر، حکومتي او ادارو له خوا د انتخاباتو د کمېسیون د وروستۍ پرېکړې په اړه د دوی د پټې خولې پر غبرګون انتقاد کوي.

د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون له خوا د انتخاباتو په نتایجو کې د نوي بدلون تر پرېکړې تر ۳۰ ساعتونو ډېر وخت تېر شوی.

آیا د ولسي جرګې له ۹ وکیلانو څخه د وکالت اخیستل د ولسمشر حامد کرزي له حکم سره سمه پرکړه ده او ده ته د منلو وړ ده؟

تر اوسه ولسمشر کرزي او لوړپوړو حکومتي چارواکو د انتخاباتو د کمیسیون د نوې پرېکړې په اړه له څه ویلو ډډه کړې ده.

د دوی پټه خوله څه مانا لري؟

د راپورونو پر اساس، چې ولسمشر کرزي د انتخاباتو له کمیسیونه پرته نورو ټولو حکومتي چارواکو ته، چې د انتخاباتو په قضیه کې ښکیل وو، لارښوونه کړې، چې د انتخاباتو د پرېکړې په اړه رسنیو ته څه ونه وایي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ له چارواکو سره چې مو په دې اړه خبرې کولې، دوی ویل د انتخاباتو د پریکړې په اړه لا هم څه ویلو ته تیار نه دي.

هغه نوي کاندیدان چې ورمعرفي

پاتې ۴ مخ

کاندیدان معترض: رییس جمهور تعهدات خود را عملی کند یا استعفا دهد

کابل، رسانه ها:
نامزدان معترض و صد ها تن از حامیان شان در واکنش به فیصله تازه کمسیون مستقل انتخابات افغانستان به روز سه شنبه در کابل، دست به تظاهرات زدند.

نامزدان معترض با صد ها تن از طرفداران شان به رییس جمهور کرزی دو گزینه را پیشنهاد کردند یا فیصله، محکمهء اختصاصی را تطبیق کند و یا هم از مقام ریاست جمهوری افغانستان استعفا بدهد.

این تظاهرات که به شکل مسالمت آمیز به روزسه شنبه راه اندازی گردید، از پارک زرنگار شهر کابل آغاز و در چهار راهی ذنبق در نزدیکی دفتر یوناما خاتمه یافت.

نامزدان ناراضی فیصلهء اخیر کمسیون مستقل انتخابات افغانستان را که به

بقیه در صفحه ۴

د ننګرهار په ولایتي دفتر کې درې ورځنۍ علمي سیمینار جوړ شو

د زمرې په ۲۴ مه د ننګرهار د حزب اسلامي په ولایتي دفتر کې درې ورځنۍ علمي او تربیوي سیمینار پرانستل شو. په یاد غونډه کې د ننګرهار د ولسوالیو او د جلال آباد د ښار د ناحیو ناظمینو، جهادي شخصیتونو او اهل نظر ورونو ګډون کړی و.

پروګرام د سهار ۹ بجې د قرآن کریم د څو آیتونو په تلاوت پیل شو، له تلاوت وروسته د ولایتي دفتر مسؤل استاد عبدالعلي پخپلې پرانستې وینا کې میلمنو ته ښه راغلاست وویل او د سیمینار په اجنډا یې مفصله رڼا واچوله.

د غونډې لومړی ویناوال د دعوت او تنظیم مسؤل ښاغلی رضوان محمد په تنظیم کې د نظم اهمیت په اړه ګډون والو ته په زړه پورې معلومات وړاندې کړل، وروسته د ننګرهار د پوهنتون استاد محمد شریف رحماني د قرآن مطلوب انقلاب پر موضوع له محتوی نه ډکه علمي وینا وکړه چې حاضرینو په ډېر غور او مینه ورته غوږ کېښود. وروسته د ننګرهار پوهنتون استاد نقیب جان د نفس د تزکیې په رابطه خپله ارزښتناکه وینا وړاندې کړه. د غونډې بل ویناوال د ننګرهار د اسلامي پوهنتون استاد دکتور عزیزالرحمان په اسلامي شریعت کې د حدیثو مقام په اړه مفصل او مدلل معلومات وړاندې کړ. پدې غونډه کې د ننګرهار اسلامي پوهنتون علمي مرستیال دکتور دل آقا وقار د ټولو موضوعاتو

پاتې ۴ مخ

قاضیان: هیڅ اورګان د ځانګړې محکمې د حکم د ماتولو توان نه لري

کابل، رسنۍ:
په کابل کې یو شمیر برحالو قاضیانو، څارنوالانو اوحقوقپوهانو د یوې غونډې په ترڅ کې د انتخاباتو د لانجې د هوارولو لپاره پر انتخاباتي شکایتونو د غور د ځانګړې محکمې د حکم ملاتړ وکړ.

هغوی وایي چې هیڅ اورګان د قضا د حکم پر وړاندې د درېدو صلاحیت او توان نه لري او که هره اداره یې د پریکړو د ماتولو هڅه وکړي دوی به په پوره قوت د هغوی پر وړاندې اقدام وکړي.

د حکومت پلوه قاضیانو دغه دریځ پر داسې مهال څرګندېږي چې اوس ویل کېږي د ولسمشر کرزي د فرمان په باب د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون بابیزتیا ښکاره کړې ده.

په دغه فرمان کې چې د تېرې چهارشنبې په ورځ خپور شو ولسمشر د ټولټاکنو کمیسون ته دنده وسپارله چې د انتخاباتو لانجه له حقوقي اړخه وڅېړي او د اختصاصی محکمې

پاتې ۴ مخ

درناوی که سپکاوی!؟

سید جلال الدین "حسیب"

د تېرو پارلماني ټاکنو په باب یعنی ۲۹/۵/۱۳۸۹ نه تر ۳۱/۵/۱۳۹۰ پورې نانـدرۍ روانـې دي، او داسې ښکاري چې هېڅوک ورته د پای ټکی کېښودل نه غواړي، که څه هم د نانـدریو کلمه زیاتره د ښځو ترمنځ د ایریو او پیغورونو شور او ځوږ ته کارول کېږي، خو دا ځل زموږ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ښاغلي جمهور رئیس په ګډون د ښځو پرځای د نانـدریو نـړیوال ریکارډ قایمول غواړي، که زموږ مقننه قوه ده نو هغه خو د نانـدریو ځای دی، که قضائیه قوه مو ده، نو هغو قدرمنو خو داسې ښکاري چې دغه کار ته نوی لاس اچولی وي او ددې پر ځای چې د قضا حیثیت یې ساتلی او اوچت کړی وي، پخپلو کې د یو بل پرخلاف اخته دي، پرېکړې کوي، اعلامیې خپروي او له خپلو پرېکړو او اعلامیو نه په شا کېږي هم، همدغسې زموږ د هېواد جمهور رئیس درواخلئ، چې تراوسه پورې یې په یوه چاره کې هم له خپل دریځ نه دفاع ونه کړه، هغه دچا خبره لوټه ږدي او پرې تېرېږي او دغه د پارلماني ټاکنو پر سر نانـدرۍ چې له یوه کاله راسې یې د ولس غوږونه کاڼه کړل، داسې ښکاري چې زموږ ښاغلی ولسمشر یې شور او ځوږ نور هم زیاتول غواړي.

اوس به راشو دې خبرې ته، چې د تېر کال پارلماني ټاکنې چې له هر ډول درغلیو ډکې وې، یعنې پیل یې په درغلیو، رایې ورکول یې د درغلیو له لارې او نتایج یې په درغلیو رامنځته شول،...

پاتې دویم مخ

سرمقاله
د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

له قانون سره د ملنډو دا لوبه به کله پای ته رسیږي

د نړۍ په ټولو هېوادو کې عدلي او قضایي ارګانونه موجود دي، داسې هېواد نشته چې هلته قانون شتون ونه لري.

اصلاً قانون دې لپاره وي چې د هېواد په سطحه څومره کشالې پیدا شي د قانون په رڼا کې قضایي ارګانونه دهغې په اړه خپله پرېکړه صادره او هغه نافذ العمل شي.

افغانستان هم د نړۍ له هغو هېوادو څخه دی چې قانون هم لري او عدلي او قضایي ارګانونه هم. په دې خبره هم ویاړي چې اساسي قانون یې اسلامي دی او یوه ماده یې هم د اسلام د سپېڅلی دین له حکمونو سره ټکر نه لري.

که څه هم دا ګیله له پخوا نه موجوده ده چې په افغانستان کې قانون نه پلې کېږي او هر څه د خپلې خوښې مطابق ترسره کېږي خو دا چې د تېر کال د پارلماني ټاکنو په سر د معترضو کاندیدانو د لانجې د حل لپاره د سترې محکمې له خوا جوړې شوې ځانګړې محکمې کومه پرېکړه وکړه، د انتخاباتو د مستقل کمیسیون د مشر له خوا دهغه نه تطبیقول او پرځای د خپلې خوښې پرېکړه اعلانول په دې خبره د تصدیق مهر ثبت کړ چې په افغانستان کې قانون، عدلي او قضایي ارګانونه هیڅ اهمیت نه لري او هسې تش په نامه شتون لري.

پوښتنه داده چې آخر ښاغلي معنوي په کوم قانوني صلاحیت د سترې محکمې له خوا د جوړې شوې ځانګړې محکمې په پرېکړه کې ترمیم رامنځته کړه او د دوه شپیته بریالیو وکیلانو څخه صرف ۹ وکیلان یې کابینې ته د لېږلو پرېکړه وکړه.

آیا د معنوي صیب ددغې پریکړې ښکاره مطلب دا نه دی چې دهغه په نزد د ځانګړې محکمې پرېکړه غلطه او د منلو وړ نه ده؟ ایا دهغه لدې فیصلې نه دا ثبوت نه ترلاسه کېږي چې په افغانستان کې هر زوره ور د قضایي قوې د پرېکړې دنه منلو حق لري؟ که داسې نه ده نو بیا د معنوي صیب په محاکمه کولو کې ستره محکمه ولې غلې پاتې ده او هغه کوم قانوني خنډونه دي چې له معنوي څخه پوښتنې او ګرویګنې نشي کېدلې !؟

که چېرته د ځانګړې محمکې پرېکړه عملي نشي او وربانديې د ملنډو وهلو دا لړۍ روانه وي نو بیا ولسمشر کرزی او عدلي او قضایي ارګانونو مشران دا حق نه لري چې پخپل هېواد کې د قانون د شتون دعوه وکړي. آیا هغه قانون چې نه پلې کېږي او وربانديې ملنډې وهل کېږي، پر هغه فخر کول به لیونتوب او ولس ته دوکه ورکول نه وي؟

ښاغلي معنوی او دهغه سرپرستو ډلو ټپلو چې پر قانون د ملنډو وهلو کومه لوبه پیل کړې اصلاً عدلي او قضایي ارګانونو تر څنګ یې دولت هم له سخت ازمېښت سره مخامخ کړي دي، که په دې حساسه پړاو کې د قانون برلاسې او حاکمیت یقیني نه کړی شي او هغه اشخاص د عدالت چونترې ته راکش نه کړی شي چې قانون یې پخپل لاس کې نیولې دی نو ددې معنی او مفهوم به همدا وي چې دولت هم په تمامه معنی د قانون ماتونې په لوی جرم کې ککړ دی.

دې لپاره چې په هېواد کې اړې ګړې پیدا نه شي او دغه مات ګوډ حالت نور هم خراب نه شي ددې خبرې ضرورت دی چې قانون په صحیح معنی تطبیق شي، نه ښایي د قانون په تطبیق کې ښاغلی کرزی او قانون نافذوونکی اداری له غفلت څخه کار واخلي او په دې توګه خپل هېواد او ولس ته نه جبرانېدونکی تاوان ورسوي.

ولسمشر کرزی او نور حکومتي لوړ پوړي چارواکي دې په دې خبره ځان پوه کړي چې له قانون سره د لوبې دغه روانه لړۍ د افغانستان مسلمان ولس قهر او غصه تر آخري کچه راپارولې ده او هر څوک همدا غوښتنه لري چې له قانون سره پیل شوی روانه لوبه دې ژر تر ژره پای ته ورسول شي د قانون احترام دې یقیني کړی شي او دهغه په نفاذ کې دی له هیڅ ډول سستي نه کار وانخستل شي که نه نو د افغانستان مسلمان ولس به د خپلو حقوقو د تحقق او د قانون د برلاسی لپاره ملي پاڅون ته اړ شي او له ملت او قانون سره لوبه کوونکي عناصر به خپل انجام ته ورسوي.

درناوی که سپکاوی!؟

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... که لړه یې سپینه ووایو زیاتره هماغو څوانانو ولسي جرګې ته لار ومیندله، چې په لومړی سر کې یې له استحقاق پرته د ولس رأیې په بیه واخیستې، په دویم قدم کې یې د ټاکنیزو مرکزونو مامورین اجاره کړل، په دریم قدم کې یې بنډل بنډل جعلي کارتونه د همدغو ټاکنیز مرکزو له لارې وکارول، په څلورم قدم کې یې د رأیو ورکولو پر وخت د ګوتو د رنګونو د مینځلو لپاره وسایل برابر کړل او یوه کارت لرونکي وکړای شول چې خپل کارت په ټاکنیزو مرکزونو کې څو څو کرتې وکاروي او هغه چاته رأیې ورکړي چې د پیسو سودا یې ورسره کړې ده، په پنځم قدم کې یادو شتمنو کاندیدانو هغو مرکزونو ته چې ددوی رأیې پکې کمې او د مخالف کاندید پکې زیاتې وې، د ټاکنو د دفتري مامورینو په کارولو سره کمې رأیې پاتې ولېږلې، چې ډېری وګړي د خپلې خوښې کاندید ته د رأیې ورکولو له حق نه بې برخې پاتې شول، په شپږم قدم کې د هماغو ښاغلیو رأیې د ټاکنو د ناخپلواک کمیسیون په مرکزي دفتر کې شمېرل کېدې، چې د کمیسیون ښاغلي یې راضي کړي وو، او بالاخره چې کله د ټاکنو پایلې اعلانېدې، نو زیاتره هماغه ښاغلي بریالی راووتل چې په دوبی، سرای شهزاده، د ټاکنو د کمیسیون په داخل او نورو ځایونو کې معاملې کړې وې، او زیاتره هماغه کاندیدان ناکام شول، چې د ولس ریښتینی ملاتړ یې له ځانونو سره لاره او له درغلیو پاکې رایې یې اخیستې وې.

لنډه دا چې د تېرو پارلماني ټاکنو په بهیر کې ټول افغان ولس او په ځانګړې توګه پر یو څه پوهېدونکي افغانان له ټاکنو نهیلی څه چې زړه توري شوي دي او که د ټاکنو په قانون کې مکمل بدلون رامنځته نه شي، نو که خیر وي او د دریم ځل لپاره پارلماني ټاکنې کېدلې، هېواد او خلکو ته مخلص او د ټګیو، ټوریو او رشوتونو مخالف افغانان به نه ځانونه کاندید کړي او نه به چاته رأیه ورکړي، بس هماغه ښاغلي به کاندیدان او رأیې ورکوونکي وي، چې د درغلیو له لارې ځانونه بریالی کول غواړي او د درغلیو له لارې خپل کړي مصارف څو چنده ترلاسه کول غواړي. ځکه همدا اوس په ولسي جرګه کې هماغه ښاغلي تشریف فرما دي چې د ولسي جرګې د پنځه کلنو امتیازاتو لس پنځلس چنده زیات مصارف یې کړي دي "که څه هم ولس ته کوزګوري نه دي، ځکه ولس پرې خپلې رأیې خرڅې کړي نور یې نو ورسره څه دي "او په دې هڅو کې دي، چې خپلې کومې شتمنی یې چې پر کومو ناروا لارو ترلاسه کړي او بیایې پر بله ناروا لګولي اوس یې له کومو ناروا لارو بېرته ترلاسه کړي. ځکه دولت که حرام هم وي، خو د حرام زړه غوښې وي.

د پورته درغلیزو پارلماني ټاکنو وروسته زیات شمېر کاندیدانو، د ټاکنو پر کمیسیون نیوکې پیل کړې، چې د ترمخه یادو درغلګرو سره د معاملې په نتیجه کې یې د ټاکنو وروستی پایلې اعلان کړي، چې دوی ته د منلو وړ نه دي او له همدې امله لویې څارنوالۍ او بیا سترې محکمې ته یې له اسنادو او

شواهدو سره مراجعه وکړه، له درانه جمهور رئیس سره یې کتنې وکړې او د شواهدو او ثبوتونو په وړاندې کولو سره په رسمي او قانوني توګه د خپلې دعوی د قانوني پرېکړې غوښتونکي شول. ښاغلي جمهور رئیس هم د معترضو نوماندانو د قانوني اعتراضونو له اورېدو وروسته د یوه فرمان په وسیله د سترې محکمې په چوکاټ کې د ټاکنیزو درغلیو د څېړنو په موخه ځانګړې محکمه جوړه کړه، له یوې خوا دغه ځانګړې محکمې په مرکز او ولایاتو کې د درغلیو په باب څېړنې پیل کړې او له بلې خوا یې د ټاکنیز کمیسیون، ولسي جرګې د بریالیو نوماندانو او د سیاسي او عدلي کارپوهانو له خوا د ځانګړې محکمې د رامنځته کیدا په باب د ناقانونه ګڼلو ټاپې لګول پیل شول او ان تر دې چې په تصویري رسنیو کې خو ځینې داسې قدرمنو کارپوهانو خپل عالمانه نظریات څرګند کړل، چې پر اساسي قانون پوهېدنه او ترینه استنباط خو لاڅه چې له مخې یې یو ځل لوستی او مطالعه کړی هم نه و ! !؟

خبره لاپسې ډنډوره او جنجالي شوه ښاغلي جمهور رئیس هماغه ولسي جرګه پرانسته چې د درغلیو د څېړنو لپاره یې یوه فرماني ځانګړې محکمه جوړه شوې وه. که څه هم ویل کېږي چې ښاغلي جمهور رئیس له بریالیو وکیلانو ژمنه اخیستې وه چې د ځانګړې محکمې پریکړې به مني، خو کله چې بریالي وکیلان ولسي جرګې ته ننه وتل، یو ځل بیا یې ځانګړې محکمه ناقانونه وګڼله او ددغه محکمې د پریکړې پرخلاف او همداراز د سترې محکمې او لویې څارنوالی پرخلاف یې پرېکړې وکړې او مطبوعاتي اعلامیې یې خپرې کړې، چې په مقابل کې یې سترې محکمې د جمهور رئیس د ځانګړې محکمې د قانونیت په باب مطبوعاتي اعلامیه خپره او قانوني دلایل یې وړاندې کړل.

بالاخره ځانګړې محکمې دخپلو څېړنو او په مرکز او ولایاتو کې د رایو شمېرنو په نتیجه کې (یوازې د معترضو نوماندانو رایې وشمیرلې) ۶۲ تنه معترض نوماندان بریالي اعلان کړل او ۶۲ بریالي وکیلان یې په درغلیو تورن کړل، چې دې کار په ولسي جرګه کې غوغا راپورته کړه او د قانون د ملاتړ په نامه ائتلاف یې جوړ کړ، بلې خواته د ځانګړې محکمې دوسیې د استیناف محکمې ته ولېږل شوې، چې له ډېرو ناندریو وروسته د استیناف محکمې د ځانګړې محکمې پریکړه تائید کړه، د قانون د ملاتړ ائتلاف په ولسي جرګه کې لاپسې زور واخیست او یوې پارلماني ډلې په دې باب له جمهور رئیس سره وکتل او ښاغلي جمهور رئیس د خپل فرمان پرخلاف د ځانګړې محکمې او د استیناف، د محکمې پریکړې د ټاکنو ناخپلواک کمیسیون ته وسپارلې، چې د ټاکنو په باب راپورته شویو ناندریو ته د پای ټکی کیږدي، او هغه دې ومو لیدل چې د ټاکنو د ناخپلواک کمیسیون رئیس قاضي فضل احمد معنوي د خپلو تېرو له باټو ډکو ناندریو پرخلاف په ۳۰/۵/۱۳۹۰ نېټه د ځانګړې او استیناف محکمې پرېکړې تر پښو لاندې کړې، د جمهور رئیس فرمان یې په ترینګلی وواهه، د سرای شهزاده، دوبی او نورو ځایونو پټې معاملې یې په خپل اند پټې پرېښودې او هماغه کسان یې بریالي اعلان کړل، چې د ټاکنو د پایلو تر اعلان دمخه د شکایاتو کمیسیون په درغلیو تورن کړي او د ټاکنو کمیسیون یې پر ځای نور نوماندان بریالي اعلان کړي وو.

اوس نو په ولسي جرګه کې د قانون د ملاتړ ائتلاف، معترض نوماندان، د ځانګړې محکمې او استیناف محکمې قاضي صاحبان، لویه څارنوالي او ستره محکمه او جناب محترم جمهور رئیس ټول باید ناراض وي او له ځانونو پوښتنه وکړي چې ددې دومره ناندریو پایله همدا نهه کسه وو او دا دومره مصارف د قانون د تطبیق چغې له مستۍ وې ! ! !

فکر کوم ناندرۍ به دوام وکړي او په نتیجه کې به یې د ولس هیلو او غوښتنو ته درناوی، د قانون تطبیق او منلو ته درناوی، د قانون، قضا او حکومت اړوندو ارګانونو ته درناوی د دغو ناندریو په دوام کې لاپسې په سپکاوي بدل شي، د خلکو په اذهانو کې به بې اهمیت راکم شي، او د دولت او ولس ترمنځ د واټن د لازیاتېدا لامل به شي. او همدا واټن (پر دولت د خلکو باور له منځه تلل) به وچ او لامده یو ډول وسېزي. تاریخ ګواه دی.

((فاعتبروا یا اولی الابصار))

قسم خور دکانداران

ډېرې خبرې مې په زړه وې

محمد خلیل

د روژې د مبارکې میاشتې په آخري لسیزه کې مې په بازار کې ځینې خوراکي توکي او نور د ضرورت وړ څیزونه اخستل، په دوکانو کې مختلف ریټونه او نرخونه وو، چېرته به پنځوس، شپیته روپۍ فرق و، او چېرته به لس شل روپۍ. زیاترو دکاندارانو به قسمونه خوړل چې پدې کې ایله لس شل روپۍ گټو، لدې نه زیاته گټه دې راته اور شي، ما به ورته ویل:

هغه بل دکاندار چې له تانه پنځوس روپۍ ارزانه ورکوي آیا هغه د گټې پر ځای تاوان کوي؟ په هر حال یو څیز مې په دوه سوه کلدارې واخسته، کله چې په فلاینگ کوچ کې کېښناستم نو زما په څنگ کې ناست سړي په لاس کې هم همغه څیز و، پوښتنه مې وکړه چې په څو دې راواخیست؟ ویې ویل په سل روپۍ، په زړه کې مې وویل دکاندارانو ته قسم خوړل توت هومره هم اهمیت نه لري، له کوم دکاندار نه چې ما سودا کړې و هغه خو راته قسم خوړلې و چې په دې کې صرف لس روپۍ راته وبخښه، په داسې حال کې چې له سلو نه زیاته گټه یې رانه کړې ده.

زه نه پوهېږم چې زموږ خلکو په زړونو کې ایمان په سمه توگه ځای نه دی نیولی او که په درواغو د قسم خوړلو له گناه نه خبر نه دي؟ که ایمان ځای نه وي نیولی نو دا هم د اندیښنې خبره ده او که په درواغو د قسم خوړلو له گناه نه خبر نه وي نو دا هم لویه بدبختي ده.

په افغاني ټولنه کې تر ډېره حده د اسلام د سپېڅلي دین د احکامو رعایت نه کېږي ډېر وگړي خپله دنده په ایمانداري او دیانت داري نه ترسره کوي بلکې له ټگۍ برگۍ او خیانت نه کار اخلي، په داسې حال کې چې دا کړنه هېواد او ولس دواړو ته نه جبرانیدونکی تاوان رسوي. د انساني ټولنې د پرمختگ لپاره د قانون احترام او وربانده‌ې عمل خورا ضروري دی تر څو پورې چې په یوه ټولنه کې ایمانداري، دیانت او د قانون احترام موجود نه وي هغه ټولنه کله هم د خوشال ژوند مخ نه شي لیدلی، دا چې د افغانستان وگړي په سلو کې ۹۹ مسلمانان دي نو ددې خبرې کلکه اړتیا ده چې هر افغان خپله هره دنده د اسلام د سپېڅلي دین د لارښوونې مطابق ترسره کړي. د دکاندارانو او تجارانو لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل مبارک حدیث کې لارښوونه کړې چې د مالونو د خرڅولو په وخت کې دې د دروغو قسمونو له خوړلو څخه په کلکه ډډه وکړي.

له ابي قتاده رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

د خرڅلاو په وخت کې د زیاتو قسمونو له خوړلو څخه ډډه وکړئ، د قسم په خوړلو سره ستاسی مال خو زیات خرڅېږي مگر برکت له منځه وړي. (مسلم)

د مسلم په یو بل حدیث کې دي چې یو ځل محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: درې کسان داسې دي چې د قیامت په ورځ به الله تعالی له هغوی سره د رحم خبرې ونه کړي، د رحمت په نظر به ورته ونه گوري او له گناهونو څخه به یې پاک نه کړي. حضرت ابوذر رضی الله عنه عرض وکړ، افسوس دی دهغوی پرحال، یا رسول الله ! هغه خلک څوک دي؟ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (۱) هغه څوک چې د پرتوگ پینځې یې له خنگرونه ښکته وي. (۲) هغه څوک چې له چاسره له نیکی کولو نه وروسته احسان وربانده‌ې باروي. (۳) هغه کسان چې د درواغو قسمونو په خوړلو سره خپل مالونه خرڅوي. (مسلم شریف)

په بخاري شریف کې حدیث دی چې په درواغو قسم خوړل هم له الله سره د شریک د پیدا کولو، د مور او پلار د آزارولو او په ناحقه د چا د وژلو په څېر لویه گناه ده.

په درواغو د قسم خوړلو په باره کې گڼ احادیث شته چې په ټولو کې دهغه حرمت بیان شوي دی. موږ مسلمانانو ته پکار دي چې خپلې ټولې دندې او کارو بار په بشپړ اخلاص، صداقت، دیانت او ایمانداری ترسره کړو تر څو د نورو هېوادو د وگړو په څېر د ژوند په هر ډگر کې ښه پرمختگ وکړو او د الله تعالی د رحم مستحق وگرځو.

په حقیقت کې د الله جل جلاله دین او دهغه ټولې لارښوونې د انسان د گټې او خېرښېگڼې لپاره دي دهغوی په منلو کې د الله تعالی خوښي او د ژوندانه په ورځنیو چارو کې پرمختگ ترلاسه کېږي او د نه رعایت په صورت کې په دغې او هغې دنیا کې له ذلت او تباهي پرته بل څه نه شي ترلاسه کولې.

بازی های حیاتی کرکت در کانادا و موفقیت تیم افغانستان

حمیدخان مؤمن زاده

از همه اولتر حمد و ثنا خداوند لایزال را که تا حال افغانها را در عرصه ورزش موفقیت های زیادی را صاحب کرده است، ثانیاً برای همه ملت مسلمان و قهرمان افغانستان پیروزی اخیر را تبریک عرض میدارم.

هموطنان عزیز همانطوریکه در جریان هستید در این اواخر به ادامه موفقیت تیم های ورزشی ما در هفته گذشته تیم کرکت افغانستان بار دیگر به موفقیت در کشور کانادا دست یافت آنهم در مقابل تیم تیز یکه تاز جهان یعنی ایالات متحده امریکا. افغانها که ملت با غرور و سربلند در طول تاریخ بوده اند باوجود تمام آلام و مشکلات که در این سه دهه داشته اند با اندکی چانس زمان توانسته اند که در عرصه ورزش موفقیت چشم گیری داشته باشد، نه تنها در بخش کرکت بلکه در تمام عرصه های ورزش اعم از بازیهای رزمی و غیر رزمی که شما خود شاهد بوده اید گفته میتوانیم چندین جوان و نوجوان ما در بازیهای رزمی آسیایی، اروپایی و افریقایی به مدال های طلا و نقره وغیره دست یافته و همچنان تیم های ملی بازیهای فوتبال و والی بال، نیز موفقیت های چشم گیر را کسب کرده اند باوجودیکه افغانستان هنوز هم با حوادث دست و پنجه نرم میکند ولی مردمان این سرزمین مثل پدران خود سرشار از همت والا و عزم متین با امکانات کم و بسیار اندک میبینیم که قهرمانیهای چشم گیری را از آن کشور و مردم خویش نموده اند، به مقایسه کشور اروپایی و غربی نه بلکه در امکانات با کشورهای آسیایی و همسایه های ما نیز امکانات شان مقایسه نمی‌گردد.

در حالیکه فضای ورزش برای ورزش کاران و ورزش دوستان مساعد نبوده، از همه اولتر امنیت ضروری است آنچهٔ آرزو میرفت، نداریم. به هرحال تیم کرکت جوانان و ملی پوشان افغان که در مقابل تیم امریکا کامیاب گردیده اند و نایب قهرمانی را از آن خود کرده اند، من که چندان در تخنیک این بازی بلدیت هم ندارم ولی بسیار علاقمند شدم تا این مطلب را بنویسم آن اینکه کشور ضعیف و غریب از پاه مانده افغان که به اصطلاح کشورهای غربي که در راست آن ایالات متحده امریکا به کمک آنها شتافته اند. ولی قهرمانان صلح خواه آن یعنی (ورزش کاران) آن به پیام قهرمانانه و آزادی خواهانه خویش در مقابل یکه تاز جهان بمیدان میروند و پیروزی را از آن کشور و مردم خود میسازند، در این هیچ شک نیست که یکی از پایه های ورزش صلح میباشد ولی صلح واقعی که افغانها از همه اولتر به آن نیاز دارند، آنرا میخواهند اگر برایشان چانس های اضافه مساعد شود که از یکسو آزادی خود را داشته باشند و سوی دیگر با جهان در فضای صلح و همزیستی زندگی کنند، ما فرزندان پدران و نیاکان خود هستیم و خواهایم بود ما ضعیف هستیم ولی بی همت نیستیم در میدانهای آزادی خواهان صلح خواه صف اول را از آن خود میکنیم. چیزیکه ناگفته نباید گذاشت در این اواخر بعضی از کشورهای موفقیت های افغانان را از دید دیگر نیز تحقیق میکنند، میگویند وقتی ورزش کاران افغان به میدان میآیند به مراسم مذهبی خود میآیند (یعنی دو رکعت نماز) میخوانند، بلی افغانان متدین هستند یکی از رازهای موفقیت شان هم همین است که شعایر اسلامی خود را در هیچ حال، زمان و مکان فراموش نمیکنند که إن شاء الله نخواهد کرد این کار ورزش کاران ما بالای روحیه آنها تاثیر به سزای کرده که یکعده روشن بینان حس خوش بینی و حتی ایمان به اسلام عزیز را پیدا کرده اند. ایمان و غروریکه جمع شده افغانها را تشکیل کرده است که إن شاء الله در سایر میدانها پیروزی نیز از آن ملت مسلمان ما خواهد بود. با احترام

گر ندانی غیرت افغانیم
چون په میدان آمدی میدانیم

وزارت مخابرات و تکنالوژی چندین دستگاه غیرقانونی مخابراتی را ضبط کرد

کابل، رسانه ها:
وزارت مخابرات و تکنالوژی افغانستان دستگاه های غیر قانونی را از ولایت های کابل و بغلان بدست آورده اند. که شاید از سوی بعضی گروه های جهت فعالیت های تروریستی و تخریبی از آن استفاده می شد.

به گفته مقامات این وزارت، این شش پایه دستگاه مخابراتی که سه دستگاه آن در کابل و سه دیگر آن در ولایت بغلان بدست آورده اند. مسوولین یکی آن پاکستانی و از دیگر آن ایرانی است. که دو تن از افغان ها نیز با آنها همکاری داشته است.

خیر محمد فیضی عضو بخش تنظیم خدمات مخابراتی یا اترا و سخنگوی این وزارت به روز سه شنبه به خبرنگاران گفت، در این مورد از سوی ادارات مختلف تحقیقات جریان دارد و به زودی معلوم خواهد شد که از این دستگاه به کدام منظور و از سوی کی ها استفاده می شد.

"از این دستگاه ها ممکن بر اهداف ضد امنیتی، ممکن صدای اشخاص و مقامات بلند رتبه ثبت شده باشد. و از آن بر اهداف مختلف استفاده صورت گرفته باشد. و این در پروسه تحقیق و بازجویی معلوم خواهد شد."

آقای فیضی افزود که در این دستگاه های از سیم کارت های ام تی ان و اتصالات استفاده می شد و بیشتر از آن با کشور های خارجی ارتباط صورت گرفته است.

در بعضی از رسانه های تصویری چندی پیش ویدوی از حمله بالای هوتل انتر کانتینتال به نشر رسیده که حمله کننده گان از طریق تیلفون با پاکستان ارتباط می گیرند و به اساس رهنمایی آنها عمل می کند.

در همین حال جنرال عبدالواحد طاقت کارشناس امور نظامی و امنیتی می گوید، مخالفان مسلح در انجام فعالیت های شان از سهولت های موجود مخابراتی و انترنیتی استفاده می کنند. حکومت افغانستان باید کنترول جدی از فعالیت های مخابراتی در کشور داشته باشد.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

د ټاکنو د لانجې حل د حکومت حیثیت او اعتبار نه شي اعاده کولی

کرشن ساینس مانیټور:
د امریکا چاپ کرشن ساینس مانیټور ورځپاڼې د افغانستان د ولسي جرگې د لانجې په اړه مطلب خپور کړی لیکي، د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسون په افغانستان کې د تیر کال د ولسي جرگې د انتخاباتو پر سر د رامنځ ته شوې لانجې د ختمولو لپاره په پای کې یوه فیصله اعلان کړه.

ورځپانه لیکي دا د جمهور رئیس او پارلمان ترمنځ د لانجې د پای ته رسیدو لپاره وروستی گام بلل کیږي. دا هغه لانجه وه، چې د افغانستان د مقننه قوې فعالیت یې څو میاشتې گډوډ او هیواد یې له یوه کړکیچ سره مخامخ کړی و.

خو دا کار په قناعت بخښونکي توگه د مسالې د حل لپاره، چې انتخابات یې درغلی او فساد وښیې د حکومت حیثیت او اعتبار نه شي اعاده کولی.

ورځپانه د کابل د سیاسي علومو د استاد محمد موسی فریور خبره راخیستې، چې وایي، زه جمهور ریس د دې تولو گډوډیو مسوول بولم ځکه هغه د انتخاباتو د شکایتونو په کمیسون کې فاسد کسان گمارلي وو.

د هغه په وینا دا اعلان احتمالاً تر پردې شاه د سازشونو په نتیجه کې شوي. انتخاباتي شکایتونه په سمه توگه نه دي څیړل شوي او اوس ستونزې نورې هم پیچلې کیږي.

ورځپانه لیکي سره له دې، چې نهه تنه د انتخاباتو د خپلواک کمیسون له خوا ولسي جرگې ته معرفي شو، داسې ښکاري، چې دا لانجه به همداسې دوام ولري.

رویټرز:
په عین حال کې رویټرز خبري اژانس په یوه مطلب کې په روسیې کې د افغان مهاجرو په اړه مطلب خپور کړی او لیکلي یې دي، روسیه چې په افغانستان کې د جگړو له ډیریدو اندیښنه لري، غواړي په تجارتي برخه کې په وړاندیزونو او انکشافي پلانونو ځان رامخ ته کړي.

افغانستان د مرکزي اسیا له څو هیوادنو سره گډې پولې لري، چې ماسکو یې د خپل نفوذ سیمه بولي.

روسیه وروسته د پاکستان او ایران څخه دریم هیواد دی، چې ډیر افغانان په کې اوسي.

رویټرز په ماسکو کې د مدرن افغانستان د مطالعاتو د مرکز مشر عمر نثار په حواله لیکي، له یو نیم لک هغو افغانانو څخه چې په روسیې کې اوسي اکثریت یې په قانوني ډول ژوند کوي.

روسیه چې په سیمه کې د مخدر موادو د قاچاق او بنسټ پالنې مسالې ته اندیښنه لري، له دې سره علاقمندي لري، چې په افغانستان کې امنیت او ثبات وي.

که څه هم روسیې افغانستان ته د عسکرو له لیږلو ځان گوښه کړی، خو په افغانستان کې په څو بنیادي پروژو لکه د فابریکو، د برېښنا د بند او د کور جوړولو د پروژو په جوړولو کې برخه لري.

د افغاني خواوو له مخالفت ...
چینو وروسته وکړه.

یوناما په خپله خبرپاڼه کې ویلي چې د انتخاباتو د کمیسون د پریکړې هرکلی کوي او باور لري چې له دې سره د ولسي جرگې د انتخاباتو پرسر راپورته شوې لانجه پای ته رسېږي.

خو دې ته په پام سره چې د انتخاباتي کمیسون له پریکړې هیڅ خوا راضي نه ده د ډېرو کتونکو په وینا د انتخاباتو د کمیسون پریکړې نه یوازې د دغه کمیسون مشروعیت شکمن کړ یعني ویې منله چې درغلي یې کړې وه، بلکې د محکمو د پریکړو اعتبار یې هم له منځه یووړ.

د حکومت او ولسي جرگې بې حیثیتي پر دې سربېره ده.

ښایي له همدې کبله د ولسمشر کرزي حکومت تراوسه پورې حاضر شوی نه دی چې د انتخاباتو د خپلواک کمیسون د پریکړې په باب نظر څرگند کړي.

د ولسي جرگې دواړه لوی فراکسیونه یعني اصلاح غوښتونکي او د قانون د ملاتړ ډله د انتخاباتو د خپلواک کمیسون له پریکړې سره مخالفت کوي.

به نظر نمی رسد تصمیم کمیسون ...
روزنامه نیویارک تایمز می نویسد، با آن که معنوی تاکید کرد، کمیسون مستقل انتخابات به طور مستقل عمل کرده است اما در حقیقت وی این را پذیرفت که تصمیم اخیر کمیسون تا حد زیاد یک سازش سیاسی بود تا راه حل قانونی.

معنوی با آن که این را رد کرد که گویا کمیسون انتخابات در این نزاع دخیل بود اما افزود، این مسولیت شان بود این نزاع را که بر کار حکومت و ولسی جرگه سایه افگنده بود حل کنند.

اما نیویارک تایمز می نویسد، به نظر نمی رسد که این تصمیم برای پایان این نزاع کافی باشد، زیرا که تعدادی از اعضای ولسی جرگه تاکید می ورزند که آنها اجازه نمی دهند حتی نه عضو این مجلس خارج ساخته شود. این در حالیست که محکمه اختصاصی ۶۲ نامزد معترض به نتیجه انتخابات را برنده اعلام کرده بود. همچنین نامزدان معترض متباقی گفته اند که به اعتراض شان ادامه می دهند.

عبدالجبار شلگری که از سوی کمسیون مستقل انتخابات برنده شناخته نشده ادعا کرده است که این یک سازش بود که از سوی دفتر سازمان ملل متحد و سفارتخانه های غربی در کابل طرح ریزی شده بود و در برابر آن به اعتراضات شان ادامه می دهند.

یک تعدادی از اعضای ولسی جرگه که پیش از این برنده اعلام شده بودند در برابر تصمیم اخیر کمسیون مستقل انتخابات ابراز قهر و غضب کرده اند.

یکی از این معترضان نماینده هرات در ولسی جرگه محمد رفیق شهیر است. وی می گوید این تصمیم غیر قانونی است. وی گفته است این شرم آور است که کمسیون انتخابات در محضر عام اعلام می کند که تحت فشار به گفته وی تصمیم غیر قانونی گرفته است. شهیر می گوید، این تصمیم نه تنها به آینده این کمسیون آسیب می رساند بلکه در مجموع ضرر آن به دیموکراسی در افغانستان می رسد.

نیویارک تایمز می نویسد، دیپلومات های غربی در برابر این تصمیم کمسیون مستقل انتخابات افغانستان موقف محتاطانهء را در پیش گرفته اند. یک دیپلومات گفته است این امر یک سازش سیاسی بود. اما به گفته وی نمی دانند که آن موجب پایان این نزاع خواهد شد یا نه؟

ولسمشر کرزی ولې د ټاکنو ...
شوې دي، ډېرې یې هغه قومندانان دي، چې په سیمه کې مسلح کسان لري او یو تعداد یې هغه کسان چې تنظیمي رهبران یې تر شا ولاړ دي.

خو د انتخاباتو د کمیسون رییس فضل احمد معنوي وویل، چې دا یې وروستی او نه بدلېدونکې پریکړه ده.

خو د سیاسي چارو ځني افغان پوهان وایي، چې د انتخاباتو د کمیسون له خوا د ځانگړې محکمې پر پریکړه سترگې پټول کېدای شي، په هیواد کې نوې ستونزې وزېږوي.

کاندیدان معترض: رییس جمهور ...
گفته، آنان دفتر یوناما و سفارت بریتانیا نیز در آن نقش داشته توهین به شریعت خواندند.

نجیب الله مجاهد یکی از این نامزدان معترض به حکومت افغانستان هشدارداد اگر از حق آنان دفاع نکند برخلاف نظام برخواهند خاست.

"حکم محکمه حکم خدا و رسول است، از این حکم حمایت کنید، ورنه ما هشدار می دهیم، اخطار می دهیم و جدی می گویم که اگر شما حکم خدا و رسول را که از طرف ستره محکمه صادر شده نادیده بگیرید، حمایت از این نظام به ما گناه است و در برابر نظام جهاد فرض عین است."

پس از آن که کمسیون مستقل انتخابات افغانستان برخلاف فیصله محکمه اختصاصی شکایت های انتخاباتی که ۹۰ تن از نامزدان معترض را پیروز اعلان کرده بود، ۹ تن از این نامزدان را برنده و به ولسی جرگه معرفی کرد، این نخستین واکنش جدی و گسترده در برابر این فیصله به شمار می رود.

مظاهره کننده ها همچنان گفتند که در صورت عدم توجه به این خواست شان، اعتراضات آنان در سراسر کشور ادامه می یابد و شاهراه ها را نیز به روی ترافیک مسدود خواهند کرد.

احمد وحید طاهری یکی دیگر از نامزدان معترض می گوید، حکم محاکم نهایی بوده و فیصلهء کمسیون مستقل انتخابات افغانستان یک بار دیگر باید تجدید نظر شود.

"کمسیون بارها خیال و جنون هم گفته گپ کمسیون نهایی نیست ما به اساس قانونی اساسی و شریعت نافذ است فیصله های محاکم نهایی و غیر قابل برگشت است، اینکه رییس کمسیون ملا فضل احمد هر چی می گوید کار خودش است."

نامزدان معترض در گذشته نیز دفتر یوناما و برخی سفارت ها در کابل را متهم به دحالت در روند انتخابات افغانستان کرده و ادعا می کردند که آنان از یک جناح خاص در این روند حمایت می کنند.

اما این ادارات همچو ادعا ها را همواره رد کرده و م یگویند که این جنجال ها باید در روشنایی قوانین افغانستان حل گردد.

در این حال دفتر یوناما در کابل با پخش اعلامیه یی از فیصلهء اخیر کمسیون مستقل انتخابات افغانستان استقبال است.

د ننگرهار په ولایتي دفتر کې ...
نجوړ او لنډه خلاصه وړاندې کړه. او د سیمینار د لومړی ورځې غونډه د روداتو د ناظم مولانا قوت په دعائیه پای ته ورسېده. (۱۳۹۰/۵/۲۶)

د سیمینار د دویمې ورځې غونډه هم د قرآن عظیم الشان په تلاوت پیل شو، لومړی د علماو د تنظیم مسؤل مولوی صاحب فضل رحیم قانت پرانستی وینا وکړه، او ویې ویل چې ځنگه کولې شو د حزب اسلامي اړوند علما وروڼه منسجم کړو. تر دې وروسته مولانا ضیاء الله حکیمي د علماؤ مسؤلیت د ټولنې په اصلاح کې د موضوع تر عنوان لاندې یوې مهم ټکي ته اشاره وکړ، او ویې ویل حزب اسلامي هغه تنظیم دی چې همیشه یخپل مسؤولیت کې وفاداري کړی ده، او ددې وفادارې لوی مثال د کمونیزم شکست او د روسانو ټوټې کېدل دي، لوی خدای دې وکړي چې آینده لپاره هم یخپل مسؤلیت وفادار پاتې شي. وریسې د بزازی مسجد خطیب مولوي صاحب حمیدالله د جهاد د فضیلت په اړه خپله علمي وینا وړاندې کړه. وریسې د ننگرهار د اسلامي پوهنتون علمي مرستیال دکتور دل آقا وقار په تحریک کې د افرادو اړیکې تر عنوان لاندې خپل ارزښتناکه وینا واوروله او د مولوی صاحب محب الله په دعا پای ته ورسېده.

د غونډې په دریمه ورځ خوانانو، استادانو او محصلینو تربیوي او علمي پروگرام د قرآن کریم په تلاوت پیل شو.

د ننگرهار د طب پوهنځي استاد دکتر صاحب سید رحیم د افغانستان د اوسنی مشکلاتو د حل په رابطه ارزښتناکه وینا وکړه.

وریسې د اسلامي پوهنتون استاد محمد شریف رحماني په ټولنه کې د دعوت اهمیت تر عنوان لاندې خپله علمي وینا وړاندې کړه. تر دې وروسته د ننگرهار د اسلامي پوهنتون استاد مولوی اسرار الحی د ځوانانو اړیکې له تنظیم سره تر عنوان لاندې خپله وینا واوروله.

وریسې انجنیر صاحب عبدالهادي عاصم د لغمان د انستیټوت معاون او د ننگرهار پوهنتون استاد د تعلیم او تربیې په باره کې گټورې خبرې وکړې.

غونډه د علماو د تنظیم مسؤل مولوي فضل رحیم په اختتامیه دعا پای ته ورسېده. د ویاندوی چارې ډاکتر حکمت الله حکمت پرمخ بوولې.

قاضیان: هیڅ اورگان د ځانگړې ...
پریکړه پلې کړي.

د کابل د استیناف د محکمې ریس سید رحیم وویل چې د ولسي جرگې غړي او نور اورگانونه چې موخه یې د ټولټاکنو له کمیسون څخه وه حق نه لري چې له خپل صلاحیت پورته پریکړې وکړي او هر هغه پریکړه چې قضا کړې وي هغه به پلې کېږي.

نوموړي وویل: "د دې پر ځای چې د شریعت د احکامو ملاتړ وکړي د وسلې، توپ او زور په وسیله خپلې خبرې تحمیلوي، او دغه کار به زموږ اراده بدله نه کړي، هر اورگان باید د خپل وظیفوي صلاحیت په چوکاټ کې عمل وکړي او که د ټولټاکنو خپلواک کمیسون دی او که د ولسي جرگې اوسني غړي هغوی نه سي کولای او دا حق هم نه لري چې د قضا پریکړې بابیزه وگڼي او هغه هغسې تنشې خبرې وبولي."

په همدې حال کې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسون له لوري ویل شوي چې دوی نه شي کولای چې د اختصاصي محکمې حکم چې ولسمشر ورته د پلي کولو امر کړی په بشپړه توگه ومنې.

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com